# د پرنس ویلیم کاونټۍ عامه ښوونځیو د نړیوال بکلوریا پروګرام د اکاډمیکې بشپړتیا پالیسي

## د موخې بیانول

په پرنس ویلیم کاونټي ښوونځیو (PWCS) کې، مونږ ژمن یو چې د خپل ښوونځي ټولنې د ټولو غړو ترمینځ د صداقت، باور، انصاف، درناوي او مسؤلیت په پنځو بنسټیزو اصولو ولاړ اکاډمیکې بشپړتیا ته وده ورکړو. د PWCS دنده او ماموریت دا دئ چې:

- مونږ خپلو زده کوونکو، کورنیو او ټولنې سره د ښوونې او روزنې په برخه کې د باوري شریکانو په توګه خدمت تر سره کوو.
- مونږ خپل زده کوونکي چمتو کوو چې انتقادي فکر لرونکي، د انټرنیټ په مسؤلانه ډول کاروونکي، مبتکران او ویژن لرونکي، مقاومت کوونکي اشخاص، او نړیوال منځګړیتوب کوونکي جوړ شي.
- هره ورځ د هر زده کوونکي او کارکوونکي څخه د غوره والي تمه لرلو سره د ټول شموله کړنلارو، اقداماتو او د مساواتو ډاډ رامینځته کولو ته ژمن وسو.

د دې پالیسۍ بنسټیزه موخه دا ده چې زمونږ د نړیواله بکلوریا (IB) د زده کړې ټولنې ټول غړي د علمي بشپړتیا په اهمیت پوه شي، او په دې پوه شي چې په اصولي توګه په ګډه ژوند کول او زده کړه څه معنی لري، او د دې معیارونو په خوندي ساتلو کې د هر غړي مسؤلیتونه څه دي. د بشپړتیا یا سالمیت بنسټیزه اصول "د چلند کوډ" کې په ډاګه شوي توقعاتو کې منعکس شوي دي، هغه دا چې زده کوونکي "نه باید له چا سره مرسته وکړي او نه یې ترلاسه کړي...(په) هغو دندو کې چې د یو فرد د کار په توګه به نمرې ورکول کیږي" او دا چې زده کوونکي "باید ناسم تورونه ونه لګوي ... (او نه) دروغ معلومات ورکړي."

دا د IB د زده کوونکي پروفایل او د IB د معیارونو او کړنلارو سره په مطابقت دي:

- کلتور/چاپیریال 3: ښوونځی د علمي سالمیت یا بشپړتیا یوه داسې پالیسي پلي کوي، شریکوي او په منظم ډول څاري چې د اخلاقي علمي کړنلارو کلتور یا محیط رامینځته کوي (0301-03).
- د ټول عمر زده کوونکی 4: زده کوونکي خپل وړتیا ته وده کوي تر څو باخبره، معقولې او اخلاقي قضاوتونه وکړي (0402-04).

د IB د زده کوونکي د پروفایل هغه ځانګړتیا چې د اکاډمیک سالمیت/بشپړتیا سره خورا نږدې تړاو لري، اصولي والی دی – د صداقت، ایمانداری او نورو ته درناوی ښودل دي.

په هرصورت، اکاډمیکی سالمیت/بشپړتیا ډیری نوری ځانګړتیاوې هم منعکس کوي:

- پلټونکی یا څیړنه کوونکی: د څیړنې پیاوړې مهارتونه رامینځته کول
- پوه: د مختلفو موضوعاتو څخه د نظریاتو په کارولو سره پلټنه تر سره کول.
- روښان فکر: په مختلفو لیدلورو باندې پوهیدل او د حقیقت او نظریو تر مینځ توپیر کول
- خبري کوونکی: په مختلفو بڼو کې په واضح ډول د نظریاتو څرګندول
- فکر کوونکی: په انتقادي توګه د معلوماتو تحلیل او ارزول

- پاملرنه کوونکی: نورو ته ارزښت ورکول او په اړه یې زده کړه کول
- خطر اخیستونکی: د نویو تګلارو او ستراتیژیو کارول
- انعکاس کوونکی: شخصي نظرونه او د زده کړې تجربې په پام کې نیول

په ګډه، دا ځانګړتیاوې د اخلاقي زده کړې او شخصي ودې لپاره د اکاډمیکې بشپړتیا د یو بنسټ په توګه د هولیستیکې پوهې ملاتړ کوي.

## د علمی یا اکاډمیکې بشپړتیا تعریفول

اکاډمیکې بشپړتیا د زده کړې په ټولو اړخونو کې اخلاقي چلند او اخلاقي اصولو ته د ژمن پاتې کیدلو په معنی دي. په دی کی د اصلي کار تولید یا کول، د نورو د نظریاتو په سمه توګه منل، او د خپل ځان د زده کړې مالکیت اخیستل شامل دي. دا اکاډمیکې ودې، د IB زده کوونکي پروفایل، او د زده کړې مهارتونو ته د لارو چارو رامینځته کولو لپاره بنسټ دی.

اکاډمیکې بشپړتیا شخصي مسؤلیت پیژندنی ته وده ورکوي او د ښوونځي د ټولنې ټول غړی هڅوي چې پرته له غیر مجاز مرستو یا غیر تایید شوي سرچینو  په صادقانه توګه اکاډمیکی کار بشپړ کړي. د ښوونځي کړنلارې د دې لپاره دي چې زده کوونکو لپاره د اړینو مهارتونو  رامینځته کولو په موخه د مرستې کولو له لارې د زده کړې مثبت چاپیریال رامینځته کړي کوم چې د صادقانه، خپلواکه کار لپاره اړین دي.

## د ټولنې مسؤولیتونه

د اکاډمیکې بشپړتیا د فعالیت په بریالیتوب سره تر سره کیدنه د زده کوونکو ، ښوونکو ، کورنیو او اداری کارکوونکو ترمینځ په متقابل اعتماد او باور باندی تکیه کوي. د دی خبری داډ رامینځته کولو لپاره چې پرنس ویلیم کاونټي ښوونځی د زده کړې لپاره یو مناسب او د احترام ځای دی، د ټولنې هر غړی لاندې ذکر شوي مسؤلیتونه په غاړه لری:

- **د زده کوونکو مسؤلیتونه**
  - د IB پروګرام اکاډمیکې بشپړتیا پالیسی عملی کولو او د خپلو کړنو مسؤلیت په غاړه اخیستلو له لارې بشپړتیا او ریښتینولي بر قرار ساتل.
  - ښه حاضری لرل او په دوامداره توګه وروستی نیټو پوری دندی بشپړول
  - د نمرو په مقرر ډول د نظارت کولو او د خپلو ښوونکو او کوردیناتورانو سره د اړیکو یا خبرو اترو له لارې خپلی زده کړی اداره کول
  - د دندو په اړه د بیرونی سرچینو او / یا ځیرنې کولو دمخه د قول نقل کولو او حوالې په اړه له ښوونکو سره مشوره کول
  - د منل شوي سټایل لارښود (د بیلګې په توګه، MLA، APA، Chicago، او نور وغیره) په کارولو سره هغو سرچینو ته پیژندګلوي ورکول چې مواد ورڅخه نقل شوي، لنډیز شوي یا بیاځلی لیکل شوي وي.
- **د ښوونکو مسؤلیتونه**
  - د اکاډمیکې بشپړتیا، صداقت ، انصاف او نورو ته د درناوی په اړه بحث تر سره کول، ننداره کول او تدریس کول.
  - داسی سناریوګاني لوبول چې په هغې کې اکاډمیکې سرغړونه رامینځ ته شي، ترڅو زده کوونکي اصولی پرېکړی تر سره کولو ته چمتو  وي.
  - د دندو تر سره کولو لپاره واضح توقعات ټاکل او زده کوونکو ته لارښوونه کول چې څرنګ باید هغه سرچینې په سمه توګه نقل کړي چې هغوي کارولی دي.
  - د ټولګی دننه او بهر، د کار لپاره د ټیکنالوژۍ کارولو پالیسی کتل.

- داسي دندی ډیزاین کول چې د ناوړه اکاډمیکی چلند سره مرسته ونکړی یعنی په اسانی سره نقل نشی.
- اکاډمیکی صداقت باید د ټولګی په ټولنه کې د ورځنی کار یوه برخه وی.

- **د کورنیو مسؤلیتونه**
  - د IB پروګرام، د پرنس ویلیم کاونټي ښوونځیو د چلند کوډ، او د IB پروګرام د اکاډمیکی بشپړتیا پالیسۍ لخوا رامینځته شوي اکاډمیکی معیارونو لپاره زده کونکي مسؤل ګڼل، او د اړتیا په صورت کې د عادلانه پایلو ملاتړ کول.
  - د هر ښوونځی کال په پیل کې د خپلو زده کوونکو سره د IB اکاډمیکی سالمیت پالیسي په اړه خبری اتری کول.
  - د خپلو زده کوونکو د زده کړې په اړه د ښوونځی لخوا د ښوونځی سټیټس څخه تر لاسه شوي پیغامونه لوستل او ځواب ورکول.
  - د کال په مینځ کې او د نمری ورکولو په هره دوره کې په منظمه توګه د خپلو زده کوونکو نمرې په ParentVue کې کتل ترڅو د هغوي زده کړی وڅارل شي.
  - د هر ډول پوښتنو یا اندیښنو په اړه د خبرې کولو لپاره د ښوونکو او د IB کوردیناټور سره خبری اتری کول.
  - د زده کوونکو لپاره د موجودو  آنلاین سرچینو سره ځان اشنا کول.

- **د کتابدارانو مسؤلیتونه**
  - د درسی سرچینو په مناسب استعمال او حواله وړاندی کولو کې مهارت لري.
  - زده کوونکي له هغو سرچینو سره اشنا کول چې هغوي لپاره شتون لري.
  - د قول نقل کولو بڼو لکه MLA، APA، او شیکاګو (Chicago) په اړه آنلاین او چاپ شوي سرچینې، او همدارنګه انفرادي ډوله مرستې وړاندی کول.
  - د ښوونکو سره په ګډه د څیړنې کولو، لوست او لیک مهارتونه تدریس کول، او  همدارنګه د مختلفو درسونو / برخو لپاره اړینې سرچینې برابرول.

- **د IB کوردیناټوران مسؤلیتونه**
  - د اکاډمیکی بشپړتیا، صداقت ، انصاف او نورو ته د درناوی په اړه بحث تر سره کول، ننداره کول او تدریس کول.
  - هر کال د IB اکاډمیکی بشپړتیا پالیسی د بیاکتنې پروسې رهبري کول.
  - د IB اکاډمیکی بشپړتیا پالیسي په آنلاین ډول او د چاپ په بڼه کی د لاسرسی وړ جوړول.
  - د ماډل کولو، د توقعاتو ټاکلو، او د IB اکاډمیکی بشپړتیا پالیسی پلي کولو په اړه د ښوونکو لپاره د مسلکي پراختیا رهبري یا مشری کول

## ناوړه اکاډمیکی چلند: تعریفونه ، کړنلارې او احتمالی پایلې

ناوړه اکاډمیکی چلند د IB پروګرام د اکاډمیکی بشپړتیا پالیسی څخه سرغړونې ته اشاره کوی او د IB لخوا دا ډول تعریف کیږی "هر هغه چلند چې د ارزونی په یوه یا زیاتو برخو کی یو زده کوونکی یا هر بل زده کوونکی ته د غیر عادلانه ګټه رسولو پایله ولري (یا داسې چلند چې نورو زده کوونکو ته زیان رسوی یا ممکن زیان ورسوي) (*په ډیپلوم پروګرام کې اکاډمیکی صداقت، 2019*). په دغه ډول چلند کې لاندی ذکر شوي سرغړونی شامل دی - مګر دغو پوری محدود نه دي:

- د بل چا افکار او لیکنی په خپل نوم کول یا غلا کول – د یوی بلې سرچینې څخه په خپل نوم د کار یا نظرونو وړاندې کول، د اصلي لیکوال له رضایت سره یا پرته له رضایت..
- دسیسه/ ټګی و برګی –  د ارزونې سپارلو لپاره په یوه فریب ورکونکي طریقه په ګډه کار کول، کوم چې باید په انفرادي توګه بشپړ شي..

- د دسیسې یا سازش او همکارۍ ترمینځ توپیر مشخص کولو کلیدي فکتور دا دی چې آیا هر یو کس په یوازې زده کړه تر سره کړي ده او د زده کړې ثبوت یې په یوازې وړاندې کړئ دی او که څرنګ. د بیلګې په توګه، د یوې ازموینې لپاره په ګډه زده کړه کول او بیا د هر زده کوونکی ځان ته آزموینه ورکول، همکاري ګڼل کیږي، نه دسیسه یا سازش. د لوست لپاره د ورکړل شوي فصل په مینځ نیمول او د کاپي یا نقل کولو لپاره د نوټونو یو بل سره شریکول، ترڅو داسې ښکاره شي چې هر یو زده کوونکی ټول درسي مواد زده کړي دي، دسیسه یا چل ول ګڼل کیږي.
- په ازموینې کې ناوړه چلند - د ازموینې په جریان کې داسې کړنې ترسره کول چې یو غیر عادلانه اکاډمیکې ګټه ورسوي، لکه د غیر مجاز درسي موادو درلودل یا ورته لاسرسی موندل، د بل چا کار ته کتل یا نقل کول، یا د آنلاین ارزونې څخه لیرې کیدل یا تلل..
- تکراري کار - د ګریډونو تر لاسه کولو لپاره په ګڼو مضمونونو کې ورته څیزونې یا تر سره شوی کار وړاندې کول.
- بې اجازې ارتباط یا خبرې اترې - په داسې طریقه ارتباطات یا خبرې اترې کول چې غیر عادلانه اکاډمیکې ګټه ورسوي یا ترلاسه شي؛ دا کیدی شي چې د ازموینې پر مهال وي یا د ازموینې څخه بهر په بل وخت کې.
- د ټیکنالوژۍ بې اجازې کارول - د غیر عادلانه اکاډمیکې ګټې ترلاسه کولو لپاره د ټیکنالوژۍ کارول، که هغه د څیړنې، AI، یا سازش/چل ول له لارې وي..
- په دوامداره توګه تر وروستۍ نیټې پورې د دندې په بشپړولو کې پاتې راتلل - د اضافي وخت یا بدیلې ارزونې غیر عادلانه اکاډمیکې ګټې ترلاسه کولو لپاره د ناوخته کار او بیاځلې ارزونې پالیسۍ څخه ناوړه ګټه پورته کول.
- د ارزونې په ورځو کې د غیر حاضرۍ بڼې - په ټاکل شوي نیټو یا د ارزونو په نیټو کې ښوونځي ته نه حاضریدل ترڅو د اضافي وخت یا بدیلې ارزونې غیر عادلانه اکاډمیکې ګټه ترلاسه شي، یا د ارزونې په تړاو نه اجازه لرونکې اړیکې یا خبرو اترو کې ښکیل کیدل.

د پرنس ویلیم کاونټي ښوونځیو د زده کوونکي د ناوړه اکاډمیکې چلند هره احتمالي قضیه د ټولګي د ښوونکي/ښوونکو، زده کوونکي/زده کوونکو، کورنۍ، کوردیناتور/کوردیناتورانو او اداره کوونکو ترمینځ د ګډې پلټنې له لارې حل کوي. په هره یوه قضیه کې موخه دا وي چې نه یوازې دا معلومه شي چې آیا سرغړونه تر سره شوې ده او که نه، مګر دا چې سرغړونه ولې تر سره شوې او څرنګ کولی شو په راتلونکي کې د ناوړه اکاډمیکې چلند مخه ونیول شي.

## په مقرر ډول پوښتل کیدونکې پوښتنې

### زده کوونکي

- **پوښتنه: څه به وي که زه ډاډه نه یم چې آیا زه یو څه په سمه توګه نقل کوم او که څرنګ؟**
  - ځواب: هر ښوونځی د زده کوونکو د ملاتړ لپاره بیلابیلې سرچینې لري ترڅو د څیړنې لپاره مناسبې میتودولوژۍ زده کړي. دا تل یو ښه لومړی ګام دی چې له خپل ښوونکي سره وګورئ، مګر ستاسو د ښوونځي کتابدار هم کولی شي تاسو ته ګټورې سرچینې وړاندې کړي. ډیری وخت، دا سرچینې د کتابتون د کینوس پاڼې له لارې په آنلاین شکل شتون لري.
- **پوښتنه: آیا ما او زما ملګرې لپاره دا سم کار دی چې په خپلو دندو باندې په ګډه سره کار وکړو؟**
  - ځواب: په ګډه سره کار کول د زده کړې لپاره یوه ښه لاره کیدی شي. مخکې له دې چې په کومه دنده باندې په ګډه سره کار وکړئ، دا به ښه خبره وي چې خپل ښوونکي سره مشوره وکړئ. تر ټولو اړینه خبره دا ده چې هر زده کوونکی په دنده کې بوخت کیږي تر څو محتوی او مهارتونه زده کړي. مخکې له دې چې کومه دنده تقسیم کړئ یا خپل شخصي کار له نورو سره شریک کړئ، تاسو باید د خپل

ښوونکی څخه اجازه ترلاسه کړئ. دا تل ښه خبره ده چې د ارزونې لپاره په ټولګی کې په ګډه چمتوالی ونیسئ، مګر دا تل سم کار نه دی چې په ګډه سره دندی بشپړ کړئ.

- **پوښتنه: آیا زه کولای شم له خپلې کورنی څخه وغواړم چې زما دندې ولولی او ما ته یی په اړه نظرونه راکړی؟**
  - ځواب: هو. دا چې مسوده یا لومړنی بڼه د دندو بشپړولو یوه مهمه برخه ده، دا ښه خبره ده چې په اړه یی نظرونه ترلاسه کړئ. مګر د نظرونو ترلاسه کول چې تاسو سره په ښوالی موندلو کی مرسته کوی او د ځوابونو / مرسته تر لاسه کول چې ستاسو د دندی ځای نیسی، تر مینځ توپیر شتون لري. دا به ښه خبره وي چې د لیکلو پر ځای په شفاهی توګه نظر ترلاسه کړئ تر څو د نظر له لاری د ادبی غلا یا سازش امکان شتون ونلری. دا هم ښه خبره ده چې خپل ښوونکی خبر کړئ کله چې ستاسو د پروسې د یوې برخې په توګه ستاسو د کورنۍ یو غړی خپل نظرونه وړاندې کړی.
- **پوښتنه: آیا زه کولی شم چی د یو څیز په ښه توګه لیکلو لپاره د AI (مصنوعی ځیرکتیا) څخه ګټه پورته کړم؟**
  - ځواب: AI یا مصنوعی ځیرکتیا د ډیری ګرامر چیک کوونکو، لکه Grammarly یا حتی Microsoft Word یوه برخه ده. دا د اکاډمیکی بشپړتیا څخه سرغړونه نه ده کله چې مصنوعي ځیرکتیا (AI) ستاسو د لیکنې هغه برخې په ګوته کړي چې پری کار کولو ته اړتیا وي؛ سرغړونه دا ده چې کله مصنوعي ځیرکتیا (AI) ستاسو لپاره ټکی ولیکی." تل دا ډاډ رامینځته کړئ چې ستاسو ټکی ستاسو خپل دی یا دا چې په اړه یی خواله ورکړل شوی او د بل چا یا AI د کار په توګه نقل شوی وي.

## کورنی

- **پوښتنه: آیا دا سم کار دی چی زه د خپلو زده کوونکو یا ماشومانو سره د هغوی په کورنی دندو کې مرسته وکړم؟**
  - ځواب: هو. دا چې مسوده یا خاکه د کورنی دندی بشپړولو یوه اړینه برخه ده، دا یوه بهترینه خبره ده چې خپلو زده کوونکو ته د هغوی د کورنی دندی په اړه نظر وړاندی کړئ. مګر، د نظرونو ورکولو چې ستاسو زده کوونکو سره د هغوي کار ښه کولو کی مرسته کوی او د ځوابونو ورکول چې ستاسو د زده کوونکی د دندی ځای نیسی، تر مینځ توپیر شتون لري. دا به ښه خبره وي چې د لیکلو پر ځای په شفاهی توګه نظرونه ورکړئ تر څو د نظر ورکولو له لاری د ادبی غلا یا سازش امکان شتون ونلری. دا هم یوه ښه خبره ده چې د خپل زده کوونکی ښوونکی ته خبر ورکړئ کله چې ستاسو د زده کوونکی د پروسې د یوې برخې په توګه تاسو خپل نظرونه وړاندې کړی.
- **پوښتنه: یو ښوونکی له ما سره اړیکه ونیوله او ویې ویل چې زما زده کوونکی د اکاډمیکی بشپړتیا څخه سرغړونه کړې ده. د دی ستونزی په اړه د لا زیاتو خبرو اترو کولو لپاره له چا سره اړیکه ونیسم؟**
  - ځواب: د ناوړه اکاډمیکی چلند ټول پیښې ستاسو د ښوونځی د IB کوردیناتور یا ښوونځی پازوال/اداره کوونکی لخوا اداره کیږي. مهربانی وکړئ د خپل زده کوونکی د IB کوردیناتور یا اداره کوونکی سره اړیکه ټینګه کړئ.

- **پوښتنه: زما زده کوونکي راته وویل چې نورو زده کوونکو د آزموینی په جریان کې نقل وکړ. زه باید چاته خبر ورکړم؟**
  - ځواب: د اکاډمیکی بشپړتیا ډاډ رامینځته کول د ټولی ښوونځي ټولني مسؤلیت دی، نو دا ډیره ښه خبره ده چې ستاسو زده کوونکي یی په اړه راپور در کړی. مهربانی وکړئ د دغی اندیښنی په اړه راپور ورکولو لپاره د خپل زده کوونکی د IB کوردیناتور یا اداره کوونکی سره اړیکه ټینګه کړئ.

- **پوښتنه: د څېړنې تر سره کولو او خپل کار په ډاګه کولو لپاره زما زده کوونکي چیرته مرسته تر لاسه کولی شي؟**
  - ځواب: د هر ښوونځي په کتابتون کې بهترنی سرچینې، او کتابداران شتون لري ترڅو له زده کوونکو سره د مناسبې څېړنې او حوالی کتلو میتودونو په زده کولو کې مرسته وکړي. تاسو کولی شئ د خپل زده کوونکی ښوونکی او / یا د IB کوردیناتور سره اړیکه ټینګه کړئ ترڅو هغوی خبر شئ چې ستاسو زده کوونکی د څېړنې لپاره اضافی ملاتړ غواړی.

## ښوونکي

- **پوښتنه: زه شک لرم چې یو زده کوونکی په کورنی دنده کی نقل کړئ؛ زه باید لومړئ کوم ګامونه پورته کړم؟**
  - ځواب: مهربانی وکړئ خپله اندیښنه او هر ډول ملاتړی اسناد د IB کوردیناتور یا اداره کوونکی ته ویسی. هغوي به څېرنه تر سره کړی، دا به مشخص کړی چې آیا سرغړونه تر سره شوې او که څرنګ او مناسبی مداخلې یا پایلې به وټاکی.
- **پوښتنه: څرنګ کولی شم په لا زیاته اغیزمنه توګه د ناوړه اکاډمیکی چلند پیښو مخه ونیسم؟**
  - ځواب: هر څومره په روښانه توګه چې تاسو توقعاتو بیان کړئ او هر څومره په څرګنده توګه چې تاسو ښه اکاډمیکی عادتونه تدریس کړئ، نو هغومره به تاسو د اکاډمیکی سرغړونو کمی ستونزې ولرئ. ستاسو د IB کوردیناتور کولی شی تاسو ته ځانګړې سرچینې او لارښوونې وړاندی کړی، مګر لاندې ذکر شوي په پام کې ونیسئ:
    - آیا ستاسو دنده په مشخصه توګه داسی څرګندوی چې آیا ګډی همکاری یا د ټیکنالوژئ کارولو ته اجازه شته او که څرنګ؟
    - آیا تاسو له زده کوونکو سره خبری کړی چې هغوي باید څه وکړي که چیرته موشوش شي چې څرنګ باید یوه دنده بشپړه کړي، کله چې هغوي په کور کې کار کوي؟
    - آیا د کینوس له لارې د زده کوونکو او کورنیو لپاره مناسبې څېړنې ترسره کولو او حواله ورکولو سرچینې شتون لري؟
- **پوښتنه: زه غواړم چې د خپل ټولګی سره یوه پروژه ترسره کړم چې پکې څېرنه شامله ده. آیا داسې سرچینې شتون لري چې ما سره د سمو لارو او حوالو په تدریس کې مرسته وکړي؟**
  - ځواب: هو! ستاسو د ښوونځی کتابدار به خوښ شی چې تاسو ورسره اړیکه ټینګه کړئ تر څو همکاری درسره وکړی او سرچینی درسره شریکی کړي.

دا پالیسی په ګډه سره د PWCS IB کوردیناتورانو او د پرمختللی اکاډمیکو او تخصصی پروګرامونو دفتر لخوا په 25-2024 کل کې جوړه شوی وه. دا د کاونټی په ویب پاڼه کی او د هر IB ښوونځی په ویب پاڼه کې شتون لری.

## د اکاډمیکی بشپړتیا سرچینه

د PWCS د چلند کوډ

د کتل کیدو نیټه مئ 2025